# د سيد رسول رسا په ناولونو
# کښې د ښځينه (زنانه) کردارونو تنقيدي جاج

**Critical Analysis of Female Characters in the novels of Syed Rasool Rassa**

ډاکټر انيتا اعظم[*]

**Abstract**: *Novel and other modern forms of prose are inherited by Pashto literature through a peculiar process of evolution. In the wake of the progressive literary movements the subject of literature have gradually crafted around the concrete social and political realities of the people and societies. In this paper the research scholar has critically analyzed the female characters of different novels written by Syed Rasool Rassa. As women, the scholar has articulated her reservations and has pointed out some technical aberrations that are found in the subject novels.*

د نوموړي شاعر، ستر ډرامه نګار، نقاد، محقق او افسانه ليکونکي ښاغلي سيد رسول رسا نوم د يو ناول نګار په حيث هم په پښتو ادب کښې يو ځانګړی او انفرادي مقام لري. او که دا وواېو چې رسا صاحب په پښتو کښې په باقاعده ډول د ټولو نه ځلانده ناول نګار دی نو بې ځايه به نۀ وي.

رسا صاحب يواځې د شمېر په لحاظ نه بلکې د فني او هنري معيار او موضوعاتو د جدت او رنګارنګۍ له رويه هم د لوړې پائې ناولونه ليکلي دي. هغۀ د شرقي او غربي ژبو يوه بشپړه مطالعه لرله. او د نوي دور يو لوړ قامته تعليم يافته او عالم فاضل بنده ؤ. رسا صاحب د ملك دننه او ځنو بهرنو ملکونو کښې په اهمو منصبونو پاتې شوی دی. د يو لوړ فېکشن ليکونکي د پاره چې د مطالعې او ژورې مشاهدې کوم صلاحيتونه په کار وي هغه د رسا صاحب په شخصيت کښې موجود وو. او داسې معلومېږي چې هغه په خپله د خپلو ناولونو د واقعاتو او د هغې سره د تړلو کردارونو

---

[*] University Model School, Peshawar University

عېنــي او ذاتــي شــاهد دی د رســا صــاحب پــه چــاپ شــوو نــاولونو (مفــرور، مــاموني، خودکشــي، شــمې او مېخانــه) کښــې د خپــل وطــن او د بهــر پــه نــورو ملکونــو کښــې د چاپېرچــل او کردارونــو ډېــره ســاهو او رښــتونې عکاســي شوې ده. د ډاکټر شېر زمان طائزي په وينا:

"سـېد رسـول رسـا د پاکسـتان پـه سـفارت خـانو کښـې د پـرېس اتاشـي پـه عهـده پـه تهـران، کابـل او جکارتـه کښـې کـار کـړی ؤ. هغـهٔ پـه خپلـو ليکونـو کښې د هغو حالاتو او د هغې ډپلومېټېک چاپېرچل عکاسي کړې ده"(۱)

د دغــو خــارجي ملکونــو او د هغــوئ د اولســي او ثقــافتي ژونــد د مشـاهدې نـه عـلاوه د خپـل وطـن د لارو کوڅـو، کليـوال او ښـارئې د ژونـد پـه حقلــه هــم د ښــاغلي رســا مشــاهده او معلومــات ډېــر پرېمانــه دي. د کومــو ننداريِ چې ځای په ځای د هغهٔ په ناولونو کښې ليدی شي او د هغې سره د ترلـو کردارونـو مطالعـه او مشـاهده ئـې ډېـره د نـزدې نـه کـړې ده او پـه خپلـو نـاولونو کښـې ئـې د خپـل رسـا فکـر او پـوخ قلـم پـه ذريعـه خپلـو لوسـتونکو تـه پــه ډېــر ښــکلي او ســاهو انــداز کښــې هغــه واقعــات او کردارونــه ورمخــامخ کړي دي. او دا د يو ناول نويس د ټولو نه اهم منصب دی.

د ښاغلي رسا د ناولونو په باب له دا خبره هم د يادولو جوګه ده چې د ذکر شوو پينځو واړو ناولونو مرکزي او زوراور کردارونه د ښځو دي او په دغو واړو کښې د سړو کردارونه د ښځو په وړاندې ضمني او ثانوي حېثيت لري.

مفـرور د ښـاغلي رسـا وړومبـی نـاول دی چـې اول ځـل پـه کـال **۱۹۲۳**ء کښــې او دوېــم ځــل پــه **۱۹۷۵**ء کښــې چــاپ شــوی دی. د جــرم او ســزا پــه موضــوع ليکلــی شــوی دغــه نــاول کښــې خصوصــي خبــره دا ده چــې پــه وړومبي ځل په پښـتو نـاول نويسـۍ کښـې ښـځه پـه يـو داسـې شـکل او کـردار کښــې ښــودلې شــوې ده چــې زمــونږ د پښــتو پــه افســانوي ادب کښــې ئــې د دې نه وړاندې مثال نهٔ شته.

د نـاول مرکـزي کـردار (هيـرو) عمـر ګـل د اپريـدو د علاقـې اوسـېدونکی وي، د چـا پـه کـور چـې هغـه وخـت د هغـهٔ تربـوران ميراتـه کـوي، کلـه چـې هغـه د مــور د ســينې ماشــوم وی او چــې هغــه کلــه زلمــی شــي نــو يــوه چالاکــه ســحر

کاره او جرم خوښي پېغله عمرګل د خپل ښائست په لومو کښې راګېر کړي او د جرمونو هغې نړۍ ته ئې ورسوي په کومه کښې چې هغه د مخکښې نه راګېره وي، د ګلابو د حسن په شغله او د هغې د ګفتار په جادو کښې ښتی عمرګل نه لکه په دام کښې د ګېرې شوې مرغۍ د بهر وتو هره لار ورکه شي او ساده باده عمرګل یو بدنام جرائم پېشه عمری شي او زمونږ د فلمونو د قیصو په شان د ډاکوانو، شوکمارو او قاتلانو د سردار په شکل کښې د دنیا مخ ته وړاندې شي، د ګلابۍ کردار یواځې د یوې جرائم پېشه ښځې نهٔ دی بلکې د هغې د کردار ځنې ستائیلي او ښهٔ اړخونه هم مصنف په ډېر ښکلي او نوي انداز کښې وړاندې کړي دي. هغه د عمر ګل سره بې لوثه او بې کچه مینه کوي او هغه په هر شکل کښې د ځان په څېر لیدل غواړي.

د جرمونو په نړۍ کښې هم هغه د اصول پرستۍ په روش کلکه ولاړه وي او د ناول په اخري برخه کښې چې عمری خپل یو مجرم ملګری د ډاکې د پېسو په کمې زیاتې ووژني نو په ظاهره په هغهٔ ورکه لېونۍ ګلابو خپل ردعمل عمري ته په دا ډول څرګندوي:

"زهٔ ستا نه کرکه کوم، زما تهٔ سخت بدې شې، زما یار هغه ؤ چې تا ووژلو تهٔ زما یار نهٔ ئې. زهٔ اوس د مجبورۍ نه تا سره عمر تېروم"(۲).

هم په دغه حالاتو کښې د ګلابو له اړخه په دغه رویه او ردعمل عمری له ډېره تاوه ګلابو ووژني او په خپله هم مفرور عمری ځان پولیس ته حواله کړي.

هغه د خپلو ګڼ شمېره جرمونو چې پکښې د ټولو نه غټ او اخري جرم د ګلابو قتل وي په نتیجه کښې د پانسۍ تختې ته وخیژي او قیصه خپل منطقي او اخلاقي انجام ته ورسي.

د ګلابو د خولې په دې یوه اوږده مکالمه کښې فلسفي، شاعر او مفکر رسا یو خوا د ګلابو د کردار تفسیر او د ژوند په حقله د هغې د رویو، ساهو او سپېڅلې نقشه راکښلې ده نو بل خوا ئې په فلسفیانه

انداز کښې د خپل قام او وطن د روان ژوند عکاسي هم کړې ده. ولې د هغې په ژبه دا قسمه خطابي بیان لږ غېر فطري معلومېږي:

"ټوله ټګي ده، یو بل په تقریرونو تېرایستل دي او په چل چل ځان ته ترښځ وهل دي، لیډري، غټه زمینداري، غټه سوداګري، غټه ټېکداري، واړه ډاکه ماري ده. خو چلونه او طریقې ئې جدا جدا دي. نۀ څوک رښتیا د قوم غم کوي او نۀ د ملک او نۀ د اسلام او نۀ د مسلمان او نۀ د غریبو"(۳).

حقیقت دا دی چې د ګلابو د خولې نه دا قسمه د پوهې او ادراک نه ډکه اوږده خطبه د دې کردار د علمي پوړی نه ډېره اوچته ښکاري. دغه قسمه خبرې د رسا صاحب غوندې د یو بانظره، اولسي، سیاسي او ادبي مفکر خو کېدی شي خو د یوې "مفرورې" پېغلې ګلابو نه ئې طمع نۀ شي کېدی.

خو د ګلابو په شکل کښې د مفرورانو د یوې ډلې د مشرې یا (Gang Master) کردار زمونږ د موجوده دورونو په افسانوي ادب(Fiction) کښې که نا ممکنه نۀ وي نو عجیبه ضرور ښکاري او د ځنو خلقو په خیال د مبالغې رنګ لري.

بي بي مریم د پښتو ناول د ارتقاء په موضوع د خپلې پي ایچ ډي په ناچاپه مقاله کښې په دې حقله خپله تجزیه په دې ډول وړاندې کوي:

تر څو چې د ګلابی د مردانه کردار تعلق دی نو په اسلامي تاریخ کښې ډېر داسې مثالونه شته چې ښځو د سړو نه زیاته مړانه ښودلې ده. لکه په هند کښې د رضیه سلطان او چاند بي بي کردارونه یا په مېوند کښې د ملالې کردار د دې خبرې ثبوت دی چې ښځه د سړو نه په زړه ورتوب کښې کمه نۀ ده"(۴).

د رسا صاحب دویم ناول "مامونی"دی په ناول د چاپ نېټه نۀ ده لیکلې شوې خو د ښاغلي افضل رضا او شهلا امیر نواز د تحقیق له رویه مامونی په کال ۱۹۳۲ء کښې چاپ شوی دی. دا حواله د دغو څېړنکارو د اثر "پشتو کتابیات" په ۲۰۷ مخ درج ده.

د "ماموني" لمن د ناول د فن د تېکنيک د اصولو له مخه ډېره خوره ده. پلاټ ئې زښت کوټلى او دلچسپ دى او د موضوع له اړخه هم زمونږ د ناول نګارۍ په تاريخ کښې يو جدت او انفراديت لري.

د دې ناول مرکزي کردار د ماموني دى او ټوله قيصه هم د دغه کردار نه چاپېره چورلي. ماموني په قام دکندهار يوه افغاني پېغله وي. د پلار نوم ئې ګل احمد وي. هغه د قالينونو يو لوئ بېوپاري وي او کاروبار ئې د ايران په لويو ښارونو تهران، اصفهان او کرمان سره تر کابله او کويټې خور وي. د ګل احمد ښځه او د هغۀ لوڼه ماموني او سپوږمۍ په تهران کښې ډېره وي او د پاکستان د کرمې د علاقې ګل اکبر نومې ډرائيور د دوئ سره وي. ګل احمد په خپله زيات تر کابل او کوټه کښې وخت تېروي. د ناول هيرو د پاکستان د سفارتخانې يو زلمى افسر ګل رحمان دى او د تهران سره خوا کښې د شيران ښار په يو هوټل کښې د دواړو ليدل کتل وشي او دواړه د يو بل سره د مينې په جذبه کښې وتړلى شي. دغه پښتنه پېغله د هغه وخت د جديد ايران د نوي معاشرتي او سماجي ژوند په رنګ کښې خوشته شوې وي او دغه پښتنه جينۍ د نوې زمانې د غوښتنو سره سمه هغو ټولو بدلېدونکو اقدارو ته غاړه ږدي کوم چې زمونږ د وطن پښتنو ته ناشونې او ناممکنه او نامناسبه ښکاري.

بې پرږدې ګرځېدل، په کلبونو کښې د زلمو سره ډانسونه کول، د سرږو تر ځنګه په سمندر کښې لامبل، دا هغه څيزونه دي چې قبلئيز تهذيب کښې ئې باک نۀ شته. خو د ختيزو ملکونو د يوې جينۍ او بيا په قام ختهه د يوې پښتنې پېغلې د پاره مونږ ټولو ته يو نا خوښى او نا منلى کېفيت راوړاندې کوي خو ناول نګار د ماموني د خولې په يوه مکالمه کښې په دې لړ کښې خپله معاشرتي نظريه په دې ډول ښکاره کوي:

"پښتانۀ هم عجيبه خلق دي يو خوا د ښځې دومره احترام کوي چې د پښتون په معاشره کښې ښځه يو مرکزي حېثيت لري. د پښتون د عزت ښکلا د ښځې خدمت دى. پښتانۀ اکثر مرګونه او جنګونه د خپلو ښځو

په سر کوي او بل خوا ته ئې د ښځو نه د غوجلې ځناور جوړ کړي دي. په کور کښې په موړې تړلې وي او هيڅ قسمه بشري حقوق او بشري ازادي نهٔ ورکوي. عن چې د ښځو د تعليم هم مخالف دي. زما پښتانهٔ ډېر خوښ دي. د بل قام سړي راته هډو سړي نهٔ ښکاري خو د پښتنو دا قدامت پسندي مې نهٔ ده خوښه. په دې شلمه صدۍ کښې دوئ لاهغه شان خپلو ښځو ته د ځناورو په نظر ګوري او خپلې هغه ښځې چې د دوئ د بچو ميانه دې او خوېندې دي، دوئ ئې د صحرا ځناور ګڼي دا انصاف دی؟" (۵).

او مامونۍ هم په دغه ماحول کښې د متضادو نظريو ښکار ښودلې شوې ده. په خپله پښتو او پښتونولۍ باندې فخر او وياړ کوونکې دغه پېغله په عملي ډول د نوي تهذيب په چينو کښې تر غړۍ غړۍ ډوبه ښکاري، خو د ګل رحمان سره د بحثونو په دوران کښې د دغه تهذيب په بعضې اړخونو تنقيد هم کوي:

"زهٔ د ښځو د ازادۍ قايله يم خو د هر څيز يو حد وي دلته په مجلسونو کښې دومره شراب وڅښې چې بيا د ځان د حاله نهٔ خبرېږي هم د ځان د پاره د شرم باعث شي او هم د ټول مجلس دپاره.... زهٔ د مغربي ثقافت مخالفه نهٔ يم په مغربي ثقافت کښې هم ډېرې ښې خبرې شته خو د تهران ښار په حقيقت کښې د پېرس د معاشرې يو بد نما نقل دی" (۲).

ښاغلي رسا په خپل ناول کښې په مغربي تهذيب ځای په ځای ټکونه کړي دي او د مغربي فېشن پرستۍ په رنځ ککړ شرقي وګړي ئې په يوه پېرايه کښې غندلي دي چا چې خپل مشرقي او پښتني اقدار شاته غورزولي دي او په نورو پسې تلي دي.

هم دغه سوچ او دغه ذهنيت د مامونۍ په خيال کښې ګل رحمان د يو رجعت پسند په شکل کښې ودرولی دی چې د ژوند د ټولو نه په اهم پړاؤ کښې د فېصلې په وخت هغه د ځان نه شو کؤلو ته تيار کړي.

په دې ناول کښې د ناول نګار مقصد په مغربي تهذيب تنقيد او د هغې غندنه نهٔ ده په بنيادي توګه د ښاغلي رسا په خيال کښې ښځو له د

هغــوئ بنیــادي حقونــه ورکــول یــوه لازمــي خبــره ده. د نــوې زمــانې د دې غوښــتنو مطــابق زمــونږ جینکــو لــه د هــر قســمه بنیــادي او اعلــٰی تعلــیم ورکــول د وخــت ضــرورت دی. هغــوئ پــه کورونــو کښــې بنــدیوانې ســاتل د هغـوئ سـره یـو ډیـر لـوئ زیـاتی دی. پـه یـوه مهذبـه پیرایـه او اخلاقـي دائـره کښــې دننــه د پیغلــو او د زلمــو تــر مینځــه رومــانوي (د عشــق او محبــت) تعلقـات او رشتې هـم یـو جـائز شـی دی خـو بـې ضـرورته ازادي، عریانیـت او مغرب پرستي باندې ئې ټکونه کړي دي.

او د دې نــاول د لیــک غونــډ مقصــد ئــې د ګــل رحمــان د خــولې پــه دې مکالمه کښې څرګند کړی دی.

"کــه پښــتانهٔ د خپــل خصوصــي قــومي روایــاتو، اخلاقــو او عــاداتو د حفاظـت سـره سـره خپلـو ښـځو، نـرو دواړو تـه صـحیح ازادي ورکـړي نـو د دنیا په بهترینو قومونو کښې به شمار شي" (۷).

"خودکشــي" دا د میــا ســید رســول رســا د عشــق پــه موضــوع بانــدې لیکلـی شـوی نـاول دی. د دې رومـاني قیصـه د کـوچۍ جینـۍ میـرو شـډل او سـاده ښائسـت پـه لیـدو د پیښـور د اسـلامیه کـالج د یـو طالـب علـم سـرفراز د هغــې ســره د مینــې د لــوغړنې جــذبې د پیــدا کیــدو څخــه شــروع کیــږي. سـرفراز خـان د اشـنغر د یـو معتبـر خـان ایکـي یـو نیـازبین زوئ وي او د خپـل ډرائیـور سره کابـل تـه د سـیل د پـاره تلـی وي او پـه واپسـۍ کښـې هغـهٔ تـه پـه لاره دلتـه بنـد نـومې ځـای کښـې پـه مـوټر کښـې ورانـی راشـي او پـه دغـه مقـام د کوچیـانو یـوې کـورنۍ هـم پـړاؤ کـړی وي. د دغـې وړوکـې کـورنۍ مشـر یـو کــوچی محــراب ګــل وي او د هغــهٔ د ښــځې نــه عــلاوه دوه لونــه او یــو ماشــوم زوئ هـم وي. د مشـرې لـور نـوم ئـې میـرو، ورپسـې بلبلـه او د ماشـوم زوئ نامـه ئـې ګـل لالـی وي. میـرو یـوه ډیـره ښائسـته پیغلـه وي او د سـرفراز زړهٔ پـه وړومبي نظر کښې په هغې ورشي.

سـرفراز څـهٔ پـه چـل ول خپـل ډرائیـور د ګـاډي د سـامان راوړو دپـاره پیښور ته ولیږي او په خپله د دې کوچیانو سره ډیره واچوي.

د مېرو هم د سرفراز سره مينه پېدا شي او دواړه د يو بل سره د وادۀ پاخۀ لوظونه وکړي. سرفراز چې واپس کالج ته ورسي نو په شېبره تبه پرېوځي او دا رنځ دومره اوږد شي چې هغه کله جوړ شي نو يادداشت ئې ورسره لاړ شي. يوه ورځ هغه د خپل سبقي ملګري وقار نيازي سره د لاهور د سېل په دوران د هغۀ کور ته لاړ شي چرته چې د وقار د خور صفيې سره هغه دمينې په مضبوطه رشته وتړلی شي او د مينې دغه رشته د دواړو د عمر رشته شي. او بيا د وادۀ نه پس په پوخ عمر کښې سرفراز د خپلې ښځې صفيې سره يو ځل بيا د کابل په سېل وتی وي هم هغلته په لته بند کښې ورته بيا موټر خراب شي. دغلته د خواجه صاحب بابا د يو ملنګ د خولې نه هغۀ ته معلومه شي چې مېرو د سرفراز په انتظار انتظار د هغۀ د راتګ نه نا اميده شي او اخر د زړۀ چاؤدون لمحې ئې په دا رنګ ختمې شي چې ځان د سېلاب اوبو ته وسپاري. او اوس د بابا د مزار سره په خوا کښې ښخه وي او د دې نه بغېر هغه نور څۀ کولی شي چې په يو کاغذ ليکلی دا شعر د هغې د قبر په خازې زوړند کړي:

ويمه نور مې پرې يو څو ګلونه کېښوې
چې کوم ځای کښې د مئين شهيد مدفن وي

د موضوع له رويه خودکشي خالص د عشقيه طور يو روماني ناول دی او د ډاکټر اعظم په وېنا دا:

"د ناولونو هغې سلسلې سره تعلق لري کومو ته چې واقعاتي ناولونه وئيلی شي"(۸).

ښاغلي ډاکټر خالد خان ختک "خودکشي" يو خوندور او زړۀ راښکونکی ناول ګڼلی دی. کوم کښې چې د لوستونکو د لوست د جذبې پوره خيال ساتلی شوی دی. په دې حقله د ډاکټر خالد خان ختک فاضلانه رائې په دا رنګ ده:

"يـو ښـځه ليکـونکی پـه دغـه خبـره پـوهيږي چـې هغـه دې پـه څـه ډول قيصـۍ بيـان کـړي چـې د يـو لوسـتونکي نـه دې خپـل ځـان هېـر شـي او هغـه دې قيصې پسې روان شي".(۹)

ډاکټـر خالـد خـان خټـک د دغـې وينـا پـه مرسـته کښـې دومـره قـدرې اضـافه کـول بـه کـافي وي چـې د نـاول غونډ مرکـزي کردارونـه د واقعـاتو د چپـو پـه زور د قيصـې سـره خـوا خـوا کښـې پـه لاره روان وي او هغـه ځـای کښـې خپـل منـزل تـه ورسـي چرتـه چـې د نـاول سـفر هـم تمـام شـي. د نـاول د قيصـې (او پـلاټ) دلچسـپي او دلکشـي د دې نـه ثابتـه ده چـې ډاکټـر محمـد اعظـم اعظـم پـه پېښـور کښـې د ټيلـي وژن د سنټر پـه بلنـه د پښـتو د وړومبـۍ سلسـله وارې ډرامـې د تشـکيل دپـاره د رسـا صـاحب دا نـاول غـوره کـړو او د "ورکـې لارې" پـه نـوم ئـې پـه لسـو ټوکـو کښـې ډرامـه وليکلـه چـې د پاکسـتان ټيلـي وژن د وړومبـۍ پښـتو ډرامـه سـيريل (سلسـله وارې ډرامـې) اعـزاز ورته حاصل دی.

"شـمۍ" د ښـاغلي سـيد رسـول رسـا څلـورم نـاول دی چـې پـه **۱۹۷۵**ء کښـې چـاپ شـوی دی او دا د ډمـې پـه موضـوع د ليکلـو شـوو د هنـدي نـاولونو او افسـانو د روايـت سـره تـړون لـري. چـې د دې نـه مخکښـې پـرې پـه اردو او بيـا پـه پښـتو کښـې هـم ګڼ شمېره افسـاني ليکلې شوې دي. پـه دغـه لـړ کښـې پـه اردو ژبـه کښـې د مـرزا محمـد هـادي حسـن رسـوا نـاول "امـراؤ جـان ادا" (۱۸۹۹ء) ډېـر شـهرت بيامونـدی دی او د نـاول نګـارۍ پـه فـن کښې ئې لويه درجه بيامونـدې ده.

ښـاغلی حنيـف خليـل د "شـمۍ" او د "امـراؤ جـان ادا" پـه موضـوعاتي توګه خپلو کښې تړون او يو شان والي په لړ کښې ليکي:

"دا نـاول د مـرزا محمـد هـادي رسـوا د "امـراؤ جـان ادا" د موضـوع سـره ډېـر زيـات مماثلـت لـري کـوم چـې د لکهنـوي معاشـرې پـه يـوه ډمـه ليکلـی شوی دی". (۱۰)

د "شـمۍ" او "امـراؤ جـان ادا" کردارونـه او دغـو دواړو نـاولونو مـاحول او موضـوع واقعـې چـې پـه خپلـو کښـې تـر ډېـره حـده مشـابهت خـوري، دواړه

په دغه ناولي چاپېريال کښې په وخت تېرولو مجبوره کړی شوي دي خو د دوارو په زړونو کښې د دغه ماحول د ژوند او د هغې سره د تړلو خلقو نه په زړهٔ کښې کرکه پرته وي.

شمې د "هیرا منډۍ" د یوې ډمې د ناکامه او سپېڅلې مینې د ربښتونو جذبو یو غم لړلی داستان دی چې ښاغلي رسا په ډېره هنرکارۍ د ناول شکل کښې اولس ته وړاندې کړو.

د ښاغلي رسا د نورو ناولونو په شان په دې قیصه او د قیصې په ماحول د جذباتو تفصیلي او بشپړه مطالعه ډېره مضبوطه او رسېدلې ښکاري او د دې ناول د مرکزي کردار خان ګل په ژبه خپله نظریاتي او موضوعاتي فلسفه په دې طرز وړاندې کوي له کومې چې د دې ناول د لیک بنیادي مقصد هم برېښي:

"یو خوا ته په دې بدنام بازار کښې د ګناه او معصیت ګرم بېوپار، باجې، غزلې، ګانې د ګونګرو شرنګار، ګډاګانې، شرابونه، قهقهې، خنداګانې، جوارۍ او زناګانې.... او بل خوا ته شاهي مسجد، د خدای کور، اذانونه مونځونه، ذکرونه، دا څهٔ تماشه ده....یا هغه دروغ دي یا ربښتیا دي، هغه ژوند دی ولې د دې دوارو څیزونو وجود د یو بل ضد کښې خوا په خوا اوسېدل، د انسان په ضمیر کښې د خېر او شر دا معرکه، روا او ناروا دواړه په یو ځای پاتې کېدل، اخر دا څهٔ حکمت دی".(۱۱)

د شمې کردار زمونږ د فېکشن (پښتو) په تاریخ کښې په بشپړ انداز کښې یوه نوې او برېښېدونکې اضافه ده او ښاغلي رسا په ډېر عالمانه انداز کښې د شمې د کردار په څهره کښې د دغې طبقې د ښځو د ژوند، د هغو د اولسي، معاشرتي او نفسیاتي کشالو احاطه کړې ده.

د ښاغلي رسا د دوو ناولونو دواړه هیروئنې یا مرکزي ښځینه کردارونه ګلابو او شمې دوارو د خپلو خپلو مخصوصو حالاتو په چپاؤ کښې د اولسي معاشرې په هغو دنیاګانو کښې دېره دي کومې چې هم زمونږ د دنیا برخې دي ولې بیا هم زمونږ نه جدا دي.

د شمې او ګلابو په کردارونو کښې دا يو بنيادي فرق موجود دی چې شمې د خپلې پېشې او ماحول خلاف بېخي باغيانه خيالات لري او هيڅ قسمه د ډمتوب دغه ماحول د هغې ذهن سره جوړښت نۀ خوري خو بل خوا د "مفرور" ګلابې په خپله پېشه باندې فخر کوي او هغه اعلانيه د خپلې چاپېره معاشرې او د هغې د ټېکدارانو خلاف جنګ کوي او د هغې هر انداز اوس د يوې ښځينه کردار نه زيات د يو مردانه کردار عکاسي کوي او دغه انداز مدافعانه نه خالص جارحانه وي.

د شمې په کردار کښې د اصلاح ګنجائش ډېر دی او په دغه کردار کښې فاضل ناول نويس په دغه موضوع د ليکلو شوو د پښتو او اردو ژبو د نورو ناولونو او افسانو د ليکوالو پېروي هم کړې ده خو په خپل منفرد طرز او انداز کښې او د دې خبرې نه انکار نۀ شي کېدی چې د شمې کردار نګاري زمونږ د حقيقي ژوند سره ډېر جخت او نژدې دی.

د "امراؤ جان ادا" او د "شمې" د کردارونو تر مينځه د موازنې په حواله د ډاکټر اعظم دا تجزيه هم ډېره وزن داره ده:

"د شمې کردار د اردو کلاسېکي ناول "امراؤ جان ادا" د کردار سره ډېر مشابهت لري. د مرزا هادي حسن رسوا "امراؤ جان ادا" په کردار کښې دغه قسم مجبور او محصور معصوميت ځليږي. کوم چې د شمې په کردار کښې برېښي. د رسا "شمې" هم د رسوا د "ادا" په شان تعليم يافته او د تهذيبي سوسائيټۍ د ناستې پاستې او مجلس جوګه جينۍ وي او که دا شاعره وي نو شمې هم د شعر و شاعرۍ ذوق لري او هغۀ ته خواست کوي چې هغې ته دې ګل خان د غالب ديوان وښائي".(۱۲)

په دې خبره کښې شک نۀ شته چې د ډمې په موضوع باندې زمونږ په افسانوي ادب کښې په ليکلو شوو واړو اثارو کښې "شمې" د ټولو نه اوچت فني او مقصدي کاوش دی. او دا کردار زمونږ د حقيقي ژوند د يوې ډېرې اهمې مسئلې اړخ ته اشاره کوي.

که غور وکړی شي نو دا هغه مسئله ده چې د فېکشن په آئينه کښې زمونږ د روان ژوند ژوندي حقيقتونه برېښوي. خصوصاً د افغانستان د

خـونړي (نـۀ ختمېـدونکي) جنګونـو او شـخړو پـه تنـاظر کښـې دې مسـئلې يـو ډېـر سـنګين او خطرنـاک شـکل اختيـار کـړی دی او د لاهـور د روايتـي "هيـرا منـډۍ" پـه ځـای اوس زمـونږ د وطـن پـه هـره لويـه ښـاريه کښـې د "عصـمت فروشـۍ" اډې پـه څـۀ نـه څـۀ شـکل کښـې موجـود دي. او دلتـه د حقيقـت او افسـانې تـر مينځـه ولاړو اولسي او معاشرتي بريدونو وجود له سترګو فنا کيږي.

د رسـا صـاحب پـه چـاپ شـوو نـاولونو کښـې "مېخانـه" پيـنځم نـاول دی. دا نـاول پـه کـال ۱۹۸۵ء کښـې راوتـی دی او د دې نـاول پـه حقلـه رسـا صاحب په خپله يادګيرنه کښې ليکي:

"دا نـاول د کابـل د بادشـاهي نظـام پـه زمانـه کښـې ليکلـی شـوی او د هغـې زمـانې د کابـل د ښـار د معاشـرتي، معاشـي او سياسـي ژونـد يـوه نقشه پېش کوي". (۱۳)

پـه نـاول "مېخانـه" کښـې د قيصـې پـلاټ پـه څـۀ کوټلـو، مضـبوطو او تېروبېـرو قسـمه واقعـاتو بانـدې تړلـی نـۀ ښـکاري خـو د بيـان، سسـپنس او د هـر څـۀ نـه ورتېـر د کابـل ښـار او دغـه وخـت د افغـاني معاشـرې د اوچتـې طبقــې د کورنــو او د هغــوئ د تهــذيبي او کلتــوري ژونــد د زبردســتې مشـاهدې او مطـالعې لـه رويـه "مېخانـه" د يـو منفـرد ډول او شـان هغـه نـاول دی چـې د پښـتو نـه عـلاوه د برصـغير د نـورو ژبـو پـه افسـانوي ادب کښـې ئې هم مثال په ګرانه موندی شي.

نـاول نګـار دا نـاول د واحـد مـتکلم پـه صـيغه کښـې ليکلـی دی او د نـاول د هيـرو پـه خپـر هغـه واقعـات او حـالات بيـانوي لکـه څنګـه چـې پـه هغـۀ پـه خپلـه تېـر شـوي وي. د هغـۀ د خيـالونو لـېلا ګلنـار د هغـۀ د امېـدونو بـرعکس بـل چـا تـه وادۀ شـي او د هغـۀ دنيـا تيـارۀ شـي او دغـه حالـت کښـې هغـه يـو ماښـام د کابـل سـيند پـه لار پـل عمـومي تـه ورسـي او دلتـه د هغـۀ د يـوې جينـۍ سـره اتفـاقي ملاقـات وشـي هغـه دۀ سـره د وادۀ لـوظ هـم کـوي. خـو د وادۀ دپـاره د يـو کـال نېټـه ږدي. کـال پـس هـم پـه دغـه مياشـت، هـم پـه دغـه تـاريخ او هـم دې وخـت دا دۀ دپـاره يـو حېرانـونکې پېشـکش وي خـو پـه يـورپي لبـاس کښـې پټـه دغـه ښـکلې پېغلـه جينـۍ "مېخانـه" د دۀ پـه ژونـد

کښې د دۀ د جدا شوې معشوقې ګلنار د کمې پوره کولو د پاره يوه بې بها اسره شي. ناول نګار د ګلنار په ځای اوس د مېخانې د مينې د شرابو په نشه کښې سر ګومه شي.

"مېخانه"په هغۀ دا قدغن هم لګوي چې په دغه يو کال کښې دی به نۀ د هغې نوم اخلي او نۀ به ورته د ورنږدې کېدو کوشش کوي. ناول نګار د ناول هيرو د پاکستاني سفارتخانې يو افسر ښائيلی دی چې په دغه لحاظ په دغه هيرو ځاني د رسا صاحب ګمان کېدی شي. دغه روغ کال د ناول نګار د خيالونو مرکز "مېخانه" وي چې دۀ ته کله په باغونو، کله په سنيما کښې، کله په بازارونو او کله په پارټو کښې ښکاره کيږي. د ناول په اخري برخه کښې څۀ وخت چې د دۀ د انتظار نېټه هم په ختمېدو شي مېخانه د خپل پلندر د ناپاکو ارادو له مخې تښتي نو د هغۀ (پلندر) د لاسه قتل شي او ناول نګار د خپل دغه عجيبه تصوراتي او مثالي معشوقې د محبت د ثمر نه هم محروم پاتې شي او دغه په مينه کښې ازلي نامراده مجنون يو ځلې بيا د ارمانونو او حسرتونو په بکېږ کښې يوائې پاتې شي.

"حقيقت دا دی چې د مېخانې د مور او ورور دنيا خو خود ورانه شوه. خو هيڅوک نۀ وو خبر چې زما د عشق دنيا هم ورسره ورانه شوه او زما د پاره ژوند يو اوږد ځنکدن شو".(۱۴)

د "مېخانه" ناول مرکزي خيال او پلاټ په حقيقت کښې د يوې خوندورې او منفرد ډول د لنډې افسانې (Short Story) يا اوږدې لنډې افسانې (Long Short Story) د پاره ډېر موزون ښکاري. خو د رسا صاحب د ادبي صلاحيتونو، بشپړې مطالعې او د دغه ناول د ماحول د پرېوانه او ژورې مشاهدې اعجاز دی چې دغه لنډ پاري غونډې پلاټ ته ئې د يو مکمل ناول جوثه وروبخښله.

د دې ناول هيروئن مېخانه او يا د هغې سره ضمني کردار ګلنار دواړه د شاهي دور د افغانستان د لوړې طبقې د هغو پېغلو نندارې

ښائي چې د عمومي پښتني اولسي، معاشري او د عام افغاني پښغلو سره څۀ سريکار نۀ لري.

خو ښاغلی رسا د کابل د رئيسې او بالاطبقې د اوچتو تاجرانو او افسرانو د معاشرتي ژوند تصوير کشي کوي. چې په يو شکل کښې هغه په خپله هم د سفارت خانې د يو اوچت افسر په حېث د دغې طبقې يا د هغوئ د معاشرتي هلو ځلو يوه برخه ؤ.

او د "مامونې" د ايراني معاشرت د ساهو عکاسۍ په شان د "مېخانې" د کابل د بالاطبقې معاشرت حېرانونکې رنگينۍ او سحر کارۍ زمونږ په وړاندې ږدي، کومې چې الف لېلا د داستاني ادب د طلمساتي يادونو سره تړلي دي ګڼې نو په دې ناول کښې د ګلنار او مېخانه نومې دواړو جينکو تعلق د افغانستان د عام اولس د پښغلو يا نورو زنانه کردارونو سره هيڅ جوړ نۀ خوري.

مونږ په دعویٰ سره وئيلی شو چې سېد رسول رسا يو جينيس (نابغه) ناول نګار دی او د هغۀ په ټولو ناولونو کښې د پلاټ، کردار نګارۍ د ماحول عکاسۍ د مکالمو ښکلی بيانيه انداز او د ښائسته سپېڅلې ژبې د خوبو نه علاوه هغه واړه خصوصيات هم په بشپړ انداز کښې موندلی شي. کوم چې د يو معياري ناول د پاره ټاکلی شوي دي او د ټولو نه اهمه خبره دا ده چې ښاغلي رسا په خپلو ناولونو کښې د خپل دور او خپلې معاشرې د ښځې د مسائېلو او کشالو او نوي عصر غوښتنو سره د تګ د رويو ډېره ښائسته او شانداره عکاسي کړې ده. او د موجوده نسل او راتلونکو زمانو د پښتو د ناول ليکونکو د پاره ئې د لارښودنې په لړ کښې يو انقلابي او اجتهادي قدم پورته کړی دی. او په دغه عمل کښې ئې د موجوده زمانې د ښځې د اولسي روايتي ژوند د زوړ او فرسوده انداز په خلاف يوه نوې او حقيقت پسندانه لار په ګوته کړې ده او دا يقيني ډول زمونږ د فېکشن نګارۍ په لړ کښې يو ګټور پل دی.

❁❁❁

# حوالې

(1). درې میاشتنۍ تاتره جنوري.مارچ ۲۰۰۱ء پښتو ادبي بورډ، پښتو ناولونه مخ ۲۸
(2). رسا، سېد، رسول، میاں مفرور یونیورستي بک اېجنسي ۱۹۲۳ء مخ ۱۷۷
(3). هم دغه، مخ ۱۷۲
(4). بي بي مریم د پښتو ناول تجزیاتي مطالعه (ناچاپ) مخ ۲۴، پښتو څانگه پېښور یونیورستي.
(5). رسا، سېد رسول میاں مامونۍ، یونیورستي بک اېجنسي، 1963ء، مخونه ۵۷ او ۵۸.
(6).رسا، سېد رسول، مفرور مخ 57.
(7). هم دغه، مخ ۵۹،۵۸
(8). اعظم، ډاکټر محمد اعظم، پښتو ادب کښې کردار نگاري ۱۹۹۳ء پښتو اکېډیمي پېښور یونیورستي، مخ 361.
(9). ډاکټر خالد خان خټک ناول څۀ ته وائي (اخري ټوک) مشموله میاشتنۍ پښتو نومبر.دسمبر ۲۰۰۳ء پښتو اکېډیمي پېښور، مخ ۲۷.
(10). حنیف خلیل پښتو ناول یوه تنقیدي جائزه، باگرام پښتو ادبي جرگه پېښور، 2001ء، مخونه ۵۲ او ۵۷.
(11). رسا، سېد رسول، میاں، شمۍ ۱۹۷۵ء یونیورستي بک اېجنسي، مخ ۱۷۸
(12). اعظم، ډاکټر محمد اعظم، پښتو ادب کښې کردار نگاري ۱۹۹۳ء پښتو اکېډیمي پېښور یونیورستي، مخ ۳۵۲.
(13). رسا، سېد، رسول، میاں مېخانه، د چاپ نېټه ۱۹۸۵ء، مخ ۳
(14). هم دغه، مخ ۲۰۲